


# زموږ د هیواد له ځوان او پیاوړي ژورنالیست، تکړه لیکوال او شاعربناغلي نذیراحمد سهار سره مرکه

## مرکه وال : انجنیرعبدالقادرمسعود

موږ په دې مرکه کې هڅه کړې ، له ښاغلي او منلي لیکوال، رسنوال او شاعر سهار سره د یولړ پوښتنو ابنتنو له لارې داسې څه ترلاسه کړوچې په ځا نگړي ډول د ځوان فرهنگي پښت لپاره هم گټوروي او هم په زړه پورې. په دې مانا چې په اړوندوډگروکې یې ازمېښتونه اونوښتونه، برې او بریاوې ځانته مخبېلگه کاندې. په پرمختللې نړۍ کې د پوهې او فرهنگ ډېرى نومورې ستې د دې زېږ نده دي چې له هماغه لومړیو هاندوهڅویې د خپل ټاټوبي او لا ان د نړۍ پرکچ یو څوک نومیالي ځانته ایډیال ټاکلى او د هماغه پر پلونو یې پل اېښى دى.

تر کوم بریده چې د گران اوهڅاند فرهنگیال سهار له ادبي او رسنیزو لیکنو، ژباړنو او ادبي پنځونو، په تېره نوښتگرانه شعر څخه را څرگندیږي، رښتیا هم دی د نوي پښتني پښت یو ایډیال استازى گڼلاى شو. هره کرښه، هره غونډله او مسره یې د ولسي او انساني مینې ځلندویې کوي او موږ هم په همدې مینه او ولوله د دې جوگه و گاڼه، سم له لاسه ورسره د لیکوال، رسنوال او ژباړن په

توګه خپلې پوښتنې اښتنې شريکې کړو او په راتلونکې کې ورته د يوه نوښتګر شاعرپه توګه د يوې جلا مرکې بلنه ورکړو.

دادی، د تېرو مرکو په څېر ترهرڅه وړاندې د دغې فرهنګي ستې د اند و ژوند د پوره پېژندګلوۍ په موخه له لنډ ژوند ليک سره د څو ګډوقلمي دوستانو پېرزو ينې هم رانغاړو.

نذيراحمد سهار ديرش کاله وړاندې د ارواښاد جګړن مير احمد مسود په کورکهول کې سترګې غړولې دي، چې دا کورنۍ د پښتنو له يوې سترې، درنې (مسود) قبيلې سره تړاو لري. خو سره له دې هيځکله د ټبرولۍ په لومه کې نه دی نښتی او شعار يې د ولسولۍ پر محور را څرخي اوله همدې ليد توګې سره يې ځانته لنډ نوم ((سهار)) غوره ګڼلی دی.

لومړنۍ زده کړې يې په وزيرستان، منځنۍ د پيښور په حضرت قيس بن سعد ليسه او لوړې هغه يې د کابل پوهنتون د ژورناليزم په پوهنځي کې بشپړې کړې دي. پر (۱۳۸۳) لمريز کال يې د ليسانس بريليک ترګوتو کولو راهيسې د خبريالۍ او ورسره ورسره د ليکوالۍ او شعر و شاعرۍ لاره پر مخ اخېستې ده.

لا د پوهنځي زده کوونکی وو، چې په رسنوالي او ليکوالي غبرګو ډګروکې يې خپلې وړتياوې پرکاراچولې، له سهار ورځپاڼې رانيولې، تر کليد اونيزې، کليد راډيو، ويسا ورځپاڼې، لمراو طلوع تلويزون، پژواک خبري آژانس او کابل نيوز پورې يې خپلو ازمېښتونو ته اوږه ورکړې وه.

- زموږ دهيواد نوميالي ژبپوهاند اود شعر و ادب ټولمنلي استاد پوهاند ډوکټورمجاوراحمد زيار په خپله يوه ليکنه کې د ښاغلي سهارد فرهنګي هاند وهڅو په اړه داسې کښلي دي:

((له ګران او هڅاند سره لومړۍ پلا د نړيجال(انټنېټ) په ارته بيرته ورشوکې مخامخ شوم او د پوهنځي پر وروستي کال يې په((ادبي بهير)) کې مخامخ ليدنې سترګې را ورونښې چې له ((کليد)) سره يې خپل ځانګيزه همکاري پر مخ وړله. په بنډار کې يې له يو رنګين غزله هم راته پوره پته ولګېده چې دی په ټوله مانا د ځوان فرهنګي- کمپيوټري پښت د هماغو هڅاندو اومخکښو څېرو په کتارکې راځي. په دې توګه يې دا هوډ وهيله په زړه کې را ټوکولې وه چې که وکړای شم، په وده وش اولاغوړېدا کې يې يو څه ونډه واخېسای شم او تر هرڅه له مخه خپل پوهنتوني مهال ورپرياد کړم چې مې څنګه له يوا زېنې سرکاري رادېو او بيا درو ګونو ورځپاڼو او همدومره شمېر مهالنيو سره د قلمي همکاريو تر څنګه وياندي او خبريالي هم کوله، هغه هم په هغو لنډو تنګو شرايطو او

تخنيکي تنگسو کې... او بيا يې دېته ځير کړم چې د ډېرو غونډې يوازې پر رسنوالۍ بسيا پاتې نه شي، ليکوالي او تر شعروشاعرۍ پورې ادبي هاندوهڅې نورې هم پرمخ يوسې...

او دادی، زموږ ځوان فرهنگيال د پرلپسې کار و زيار په مټ يې په تېراووکلن پېرکې گڼې رسنيزې او ادبي پنځونې، ليکنې، او ژباړنې ترسره کړې او د چا خبره، د کتابونو څښتن شوی دی. نو داچې په دغو بريو او برياووسره يې زما ارمان هم غځونې کړې، پرې وياړم او د زړه له تله يې د لا ډېرو هاندو هڅو او ځلاندو کارنامو او ښادنامو غو ښتونکی يم!

زيار، اکسفورډ، اگست۲۰۱۲))

ښاغلي سهار د خبريالۍ په ډگر کې بيلابيل ارزښتناک او گټورکتابونه ليکلي او ژباړلي دي. دلته يې يوازې د نومونو پريادونه بسنه کوو:

ځانگيزې ليکنې او ژباړنې:

- خبر څنگه وليکو؟

- مرکه څنگه وکړو؟

- د رپوټ ليکنې ارونه

- انلاين خبريالي

- سخت او نرم خبر

- رسنيزه څيړنه

- اشتهار و بازار (مارکيټنگ په عمل کې)، (ژباړه)

ښاغلي سهار د ژورناليستيکي هلو ځلو تر څنگ د يوه ښه ليکوال په توگه خپلې آزموينې د شعر او ادب په ډگرکې هم پخې کړې دي، او په خپلو پنځونو يې د پښتو ادب په غوړېدا او ښېرازۍ کې اغېزمنه ونډه اخېستې ده. په دې تړاو يې تراوسه دا کتابونه د چاپ په پساله پسوللي دي:

ادبي پنځونې او ژباړنې:

- د لونگو ځوندۍ (شعري ټولگه)

- د چينې تر غاړې راشه (شعري ټولگه)

- هغه ليونى ده (د لنډو کيسو او طنزونو ټولګه)

- د مساپرو دې خداى مل شي ( د شاعرانو پيژندګلوي)

- نازنين (ژباړل شوى ناول)

- شيطان په پريوتو کې (ژباړلى ناول)

- د سروزرو صندوق ( په پنځو ټوکونوکي عامه معلومات)

او داسې يې يو شمير نورې ليکنې په چاپي او انټرنېټي رسنيو کې خپرې شوې دي.

ښاغلى نذيراحمد سهار دا مهال د (کابل نيوزتلويزون) د خپرونو د سروال(رئيس)او پازوال (مسوول) په توګه کارکوي.

په ربښتيا سره ښاغلي سهار د خپلو هر اړخيزو علمي، ټولنيزو او ادبي آثارو په وسيله د پښتو ادب ډګرځلانده او روښانه ساتلى دى، او په دې لاره کې يې د قدراوستاينې وړ خدمتونه تر سره کړې دي.

- ښاغلي ډاکتر صاحب ببرک ارغند چې يو نامتو اووتلي ژورناليست، نوښتګر او مخکښ داستان ليکونکي دى، په خپله يوه ليکنه کې د يوه ځوان همځانګيز په توګه د ښاغلي سهار د رسنيزو او همداراز ادبي وړتياوو او هلوځلوپه اړه داسې ليکي:

(جناب نذيراحمد سهار با نگارش نوشته هاى سودمندى در عرصه هاى تهيه خبر ، کنکاش ، گزارش و ساير ژانر هاى ژورنالستيک و همچنان برگردان آثار مفيدى در اين زمينه ها ، گامهاى سازنده يى در رشد و آگاهى بيشترمسلکى جوانان و نوآموزان اين عرصه بر داشته است . ژورناليسم جوان ومعاصر ما زحمات و عرق ريزيهاى دانشمندانى چون آقاى سهار را فراموش نخواهد نمود . بياد داشته باشيم که اين امروز است که فردا را ميسازد. محترم سهار با نوشته ها ، اشعار و برگردانهاى جالب و خواندنى خويش از دير زمانى به اينسودر خدمت علم و فرهنگ کشور قرار دارد. قلم شان تواناتر باد....)

داکترببرک ارغند (۱۱/۸/۲۰۱۲)

دا هم زموږ پوښتنې او د ښاغلي نذيرسهار غبرګونې:

ـ سهار صاحب زما نیکي هیلي او پیرزویني ومنئ. مرکه دوې برخې لري، په دې برخه کې زما پوښتنې ستاسې پر ځانګیزو(مسلکي) فعالیتونو راڅرخي، او په بله مرکه کې به د شعر او ادب په تړاو خبرې ولرو.

اجازه راکړئ، چې خپلې پوښتنې پیل کړم :

ـ سمه ده، زه هم خپل سلامونه او پیرزویني تاسې او ټولو هیوادوالو ته وړاندې کوم، او په خدمت کې مو یم.

**پوښتنه :**

**ښاغلی سهارصاحب! تاسې ژورنالیزم څه ډول راپیژنئ، په کومو ځانګړنو او پوهې سره کیدای شي، چې یو څوک دیوه مسلکي اوتکړه ژورنالیست په توګه راڅرګند شي؟**

**ځواب :**

ژورنالیزم یو ټولنیز مسوولیت دی، چې واقعیتونه راغبرګوي. د پیښو د ابلاغ، تحلیل او تفسیر چاره خبریالي ده. خبریالي حقیقت په واقعي او عیني فضا کې ځاري. اصولا د خبریالی دنده هم له بېلابېلو لارو او ژورنالستیکو ژانرونو او تګلارو همدغه حقیقت ته رسېدل دي. د حقایقو پلټل او زبادول، بې پریتوب، روغتیا او دقت، د پیښې د اړخونو ترمنځ انډول ساتل، چټکه اطلاع د خبریالی مهم اصول دي، چې خبریا لان یې په پلي کولو مکلف دي. دغه راز مسلکي زده کړې، د ژورنالیزم پر اصولو پو هېدا او د لیکوالی پر تګلارو لاسبری هم د خبریالانو لپاره مهم دي. زه فکر کوم که دغه مسایل زموږ خبریالان په پام کې ونیسي، یا لږ ترلږه دغه ارونه یې په وجود کې وي ، خبریالي به یې هم مسلکي وي اوهم پاموړ.

**پوښتنه :**

**ستاسې پر اند د یوه رسنوال( ژورنالیست )غوره او اساسي دندې څه دي؟**

**ځواب :**

ښه دلته زه رسنوال او ژورنالیست سره بیلوم. رسنوال د دود له مخې هغه کسان دي، چې د رسنیو ملکیت او مالکیت یې په لاس کې وي. هغوی ته د افغانستان د رسنیو قانون خپل شرایط اینبي دي، خو لږترلږه د ژورنالیزم له ډګرسره باید روږدي او نژدې پاتې شوي وي. د ژورنالیست مهمه دنده د حقایقو په رڼا کې د پیښو خپراوی دی. نور ټول ارونه او تګلارې، چې وضع کیږي، د همدغه حقیقیت په خدمت کې دي. یانې که د خبرې

ارزښتونو، اندول، چټکتیا، روغتیا، تولنیز مسوولیت، اخلاقو، دقت او نورو ارونو خبره کیږي، ټول د حقایقو پر سمې او اغیزناکې خبرتیا ډډه لګوي.

**پوښتنه :**

**د یوه ژورنالیست ګوزارش (رپوټ) او لیکنه پر کومو ځانګیزو( مسلکي) معیارونو او بنستونو ولاړه وي؟**

**ځواب :**

زه به لږ پر رپوټ وغږیږم. رپوټ په تولیز ډول د خبر او څیړنې په ترکیب کې د صحنو او عینې او واقعي پیښنو خبر راکوي. په راپور کې د خبریال مشاهده باید رو ښانه وي. راپور ډېری پر دوو توکو ((ولې)) او ((څنګه)) راڅرخي. په ولې کې خبریال د پیښې لاملونه یا په تولیزه توګه (Hard News) وړاندې کوي، خو په څنګه کې بیا د پیښې سیرنه او انځورګري پیلیږي. دغه برخه ډېره نرم خبر یا (Soft News) ته پاتې کیږي. اروابوهان هم وایي، چې مخاطبان د نورو توکو په پرتله ډېری پر ولې او څنګه ټینګار کوي. موږ په رپوټ کې د رسنۍ د بنې، موضوع او سبک له مخې ګڼ ډولونه لرو، چې پر هر یوه بحث به ډېر وخت واخلي، خو په عمومي ډول مخاطب پوهنه، عینیت، روایت، د رسمي او نارسمي سرچینو غږول، اندول، څیړنه، مشاهدې، مرکې، سبک یا د بیان ډول، شننه (تحلیل) او ځینې نور ارونه، چې مخکې مې هم یاد کړل، د یوه رپوټ او راپورټر لپاره مهم دي.

**پوښتنه :**

**د رسنیو او وینا آزادي څه ډول راپیژنۍ، آیا د بیان اومطبوعاتو آزادي کوم سرحد لري او که نه؟ که یې لري، کوم مسایل پکې رانغښتي دي؟**

**ځواب :**

د بیان د ازادۍ تعریف او د دغې ازادۍ د پولو او بریدونو ټاکل، په ټرلو او ولسواکو دواړو ټولنو کې ناندریزه سکالو( اختلافي موضوع) ده.

د بیان ازادي مثبت او په ځینو واردو کې منفي دواړه اړخونه لري، خو دغه دواړه اړخونه له بیان نه د کار اخستلو په څرنګتیا پورې اړه لري. بیان کېدای شي، په خپله لفظي ادانه کې فرد، افرادو او د افرادو یوې ډلې یا ټولنې ته زیان ورسوي، خو دا ستونزمن کار دی، چې دغه زیان اندازه کړای شي، یا په زغرده د بیان د زیان قضاوت وشي.

په ټولنو کې ډېر داسي مسایل پيښيږی، چې په ښکاره د فرد یا د افرادو د یوې ډلي په نظر زیانناک وي. دغو ټولو ته لا څوک پر دې نه دي بریالي شوي، چې پولې وټاکي او یا یې د ګټې او زیان رښتینی قضاوت وکړای شي، خو په ټولیز ډول هېوادونه او ټولنې یو لړ ارزښتونه او ګټې لري، چې په مدني قوانینو او ټولنیز دود او عرف کې یې پر خوندیتابه ټینګار کیږي. دغه ارزښتونه په ځینو مواردو کې د بیان دازادی پولې هم ټاکي. د بیان د ازادی د محدودیت په برخه کې د انساني کرامت او فردي - ټولنیز خوندیتوب په څېر ځیني نور ارونه هم شته، چې په مستقیم ډول د خلکو له شخصیت او ژوند سره تړاو لري. هیڅوک او هیڅ قانون هم چاته دا حق نه ورکوي، چې د نورو پر حقونو تېری وشي. دغو مسایلو ته په پام سره دا قضاوت کېدای شي، چې د بیان ازادي د ټولنې او نظام له شته قوانینو سره همغږی ته اړه ده. رسنی د ولسواکی د څلورم ځواک په توګه د ملي ګټو او ټولنیز فکري- ذهني امنیت په برخه کې د دریګونو قواوو په څېر برابر مسوولیت لري. په دې صورت کې یولړ مسوولیتونه هم ورته راجع کیږي، چې په نه اجرا کولو یا سرغړونې سره یې ټولنیزې ناخوالې او یوه ذهني- فکري نا امني زیږي.

**پوښتنه :**

**تاسي خبر یاست، چې په افغانستان کې د تیرو کلونو په پرتله د وینا آزادي، د رسنیوآزادي او د ژورنالیستانو کار او فعالیت له خندوځنډ او ان ګواښ سره مخامخ شوی دی. تاسي د یوه ژورنالیست په توګه دا ستونزی څه ډول څیرئ؟**

**ځواب :**

د افغانستان په څېر ټولنه کې د رسنیو پر وړاندې ننګوني اوګواښني دوه اړخه لري، چې یو یخپله له رسنۍ او ژورنالست نه سرچینه اخلي او بل له بهره نور فاکتورونه دي. د داخلي اړخ مساله د خبریالانو او د رسنیو د مسوولانو له نامسلکي چلند او دغه راز پالیسیو، دریځونو او ځانسانسوریو سرچینه اخلي. ځانسانسوري هم په ډېری مواردو کې د متوجه بهرنیو ګواښونو پر بنسټ رامنځته کیږي، چې دا په افغاني رسنیو کې د مسلکي کار پر وړاندې یو ستر خنډ دی.

له بهره هم موږ ګڼ ګواښونه او ننګوني لرو، چې زورواکان، وسله والي ډلي، حکومتي چارواکي او دغه راز یو شمېر دودیز مسایل یکې برخه لري.

څو ورځې وړاندې مو د رسنیو د مسوولانو په یوه غونډه کې د پښتنو په یوه قبیله کې پر یوه ډېر ناوړه دود خبرې وکړې، چې که رسنی پرې غږیږي، کېدای شي د ټولې قبیلې دښمني پرغاړه واخلي. پر دې مو هم خبرې وکړې، چې څنګه ددغو ګواښونو پر وړاندې یوه ګډه مقابله وشي، خو دغه مقابله د افغانستان په څېر هېواد کې، چې قانون یکې په

بشپړه توګه لا واکمن نه دی او خپله چاروکي هم په ډېرو مواردو کې د پېښنو او حقایقو د وېش مخنیوی کوي، پوځه ګواښناک دی، خو ناممکن کار نه دی.

**پوښتنه :**

**د ناوړو ټولنیزو دودونو په له منځه وړلو یا هم نومهالوني (مډرن کولو) کې د رسنیو رول څنګه ارزوئ، ایا کېدای شي یولړ ټولمنلي پښتني دودونه مډرن نومهالي کړ شي او له منفي هغو سره یې مبارزه وشي یا له منځه یووړل شي؟**

**ځواب :**

په وسمهالي نړۍ کې د مډرنایزیشن پخوانۍ لارې چارې له منځه تللي او اوس ټول تمرکز په رسنیو دی، ځکه رسنۍ کولای شي خلکو ته فکر او اړخ ورکړي. ځینې دودونه د تېرو خلکو د ازمېښتو زېږنده دي، خو دا، چې نړۍ ګلوبلایز کیږي، د دودونو ساحه وړه کیږي او دوام نه کوي. په پښتني او افغاني ټولنه کې هم داسې دودونه شته، چې منفي اړخونه یې زیات دي. ډېرې هغه هېوادونه، چې د رسنیو ملکیت او مالکیت یې پراخ دی، په دې لټه کې دي، چې خپل فرهنګ او دود ته پراختیا ورکړي او په یوه نوې بڼه یې عام کړي. دا کار د یو شمېر ټولنو په زیان هم دی لکه دریشي، چې د لویدیز لباس دی، خو اوس زموږ په ټولنه کې هم تر ډېره عام شوی دی.

د افغانستان په ټولنه کې دودیزې لوبې مخ پر ورکېدو دي، که څه هم دا مثبت دودونه دي، خو د توکمیزو ارزښتونو د له منځه تلو او دغه راز د یو شمېر لوبو د نړیوال ارزښت له مخې له پرمختګه لوېدلي او ورو ورو د خلکو له ذهن او دوده غورځي. په رسنیو کې د رنګارنګو سکالوو راتګ، د سندرو صحنې، سریال او ډرامې، چې د نورو هېوادونو د فرهنګ ښکارندویي کوي، پر ټولنه اغیز شیندي او ورو ورو تغذیه کیږي.

په اوسنۍ نړۍ کې د یوه یوازېني پرځان بسیا فرهنګ خوندي کول ستونزمن کار دی، ځکه د سترو ملتونو فرهنګونه د هغوی د اقتصادي او رسنیزو فعالیتونو په مټ پر کمزورو ملتونو اغیز پرېباسي. ټولنې باید دا ډول جریانونه د ځان لپاره ګواښ ونه ګڼي، خو لازمه ده، چې د دا وړ جریان د مثبت استعمال او خپل هغه د تداوم او بداینې په خاطر پر ملي فرهنګونو هم کار وشي او له نړیوالو هغو سره، چې له ټولنې، او عقیدې سره یې اړخ لګوي، همغږي راولې.

**پوښتنه :**

**د رسنیو یو شمېر کارپوهان په دې باور دي، چې د تکنالوژۍ په ځانګړې توګه د رسنیزو وسایلو چټک پرمختګ ـ کورنی نظام شړوي، دغه لیدتوګه څومره رښتینې ده؟**

**ځواب :**

رسنۍ او رسنيز وسايل په خپل ځای ډېر ارزښت لري. په عمومي ډول نه يوازې دا، چې کورنۍ نظام يې نه دی شړولی، بلکې نړۍ يې هم د يوه کلي او کورنۍ په څېر سره کوچنۍ کړې ده. په ځينو مواردو کې کېدای شي تکنالوژيک وسايل انسان د فرد پالنې پر لور بوځي او د کورنۍ ټولنيز سيستم وشړوي، خو دا د وسيلې د استعمال په څرنګتيا پورې اړه لري. په ايفون کې ډېر ځله فرد له نورو لرې په انټرنيټ او بنډارخونو کې بوخت وي او د کورنۍ له غړو سره له تعاملي حالت نه وځي. يا د ټيليفون په راتګ سره، پخوانی مثبت دود، چې راشه درشه او مخامخ پوښتنې وې، له منځه تللی او اوس يوازې په يوه ټيليفوني اړيکه اکتفا کيږي. له ټکنالوژي او وسايلو سره دا ډول چلند طبعا، چې په ټولنه کې د افرادو ترمنځ مخامخ اړيکي نفی کوي او يو ډول فاصله زيږوي، خو بيا هم دا په دې پوره اړه لري، چې موږ له وسايلو نه څه ډول، چېرته او په کومو شرايطو کې ګټه اخلو.

**پوښتنه :**

**دا چې زموږ په هيواد کې ځينې حکومتي او دولتي چارواکي په سياسي، ټولنيز او اقتصادي فساد ککړ دي او خپلې ګټې په خطر کې ويني نو د دله ييزو رسنيو پازوال (مسوولين) او ډيری ژورناليستان د فشار، خطر او ان د مرګ تر ګواښنه مخامخوي او تر قضايي عدلي تعقيب لاندی نيول کيږي. تاسې د يوه آزمويلي او مخينه وال ژورناليست په توګه د دغو ستونزو او خنډونو پر وړاندی څه ليد لرئ؟**

**ځواب :**

ګډ کار او ګډه دفاع يې يوازينۍ لاره ده.

**پوښتنه :**

**ستاسې له انده د ژورناليستانو ملي او نړيوالې ټولنې څه ډول کولای شي، چې د ژورناليستانو او خبريالانو د شهادت په وړاندې خپله وړتيا او مقاومت وښيي، چې د داسې زړه بوږنوونکو پيښو مخه ډب کړي؟**

**ځواب :**

له بده مرغه په افغانستان کې ډېرى دغسې ټولنې د شخصي، ګوندي او سياسي ګټو پر بنسټ جوړې شوې او په دا وړ مسايلو کې يې چلند هم تر ډېره سليقوي او ګوندي دى. له

دوی نه ډېره تمه په کار هم نه ده، خو نړیوالې ټولنې په دې برخه کې ډېر کار کولای شي.

زه د خبریالانو لپاره د دریو څېزونو پر خوندیتوب ټینګار کوم. ژوند، دنده او کاري چاپیریال. که چېرې قوانین پلې شي او کاري چاپیریال او وظیفوي مصئونیت یې تضمین شي، د خبریالانو پر وړاندې به شته ننګونې راکمې شي.

**پوښتنه :**

**دا جوته ده، چې تاسې د ژورنالیزم او ادبیاتو په برخه کې څرګندې بریاوې لرئ. دغه دواړې برخې څه ډول سره پرتله کوئ او خپله وړتیا په کومه یوه کې وینئ؟**

**ځواب :**

ډېر خلک ادبیات او ژورنالیزم خور او ورور ګڼي. خو ادب او ژورنالیزم د ګډو ځانګړنو ترڅنګ ځینې داسې ځانګړنې هم لري، چې یوتربله یې بېلوي. په ژورنالیزم کې موږ پر حقیقیت تمرکز کوو، خو په ادبیاتو کې تخیل مهم فاکتور دی. که په ژورنالیزم کې له ادبي ژانرونو او تخیل کار اخستل کیږي هم، د خبر، رپوټ یا هم بل ژورنالستي ژانر په خدمت کې وي، یانې تخیل او ادبي سبک او تکلار حقیقت تر شعاع لاندې رانه ولي، بلکې د حقیقت په خدمت کې وي. پخوا، چې ادبیات تر ژورنالیزم مخکښ ډګر درلود، پر ژورنالیزم یې اغیز ډېر و، خو اوس د رسنیو په ودې او ټکنالوژیک پرمختګ سره ادبیات د ژورنالیزم تر اغیز لاندې دي. په افغانستان کې برعکس لا هم ژورنالیزم د ادبیاتو تر درانده اغیز لاندې دی، ځکه دلته د خبریالانو ډېری تشې ادیبانو او شاعرانو ډکې کړې، طبعاً، چې ژورنالستیکي چارې یې هم په ادبي هغو خړوبې دي.

په دې وروستیو کې موږ په ژورنالستیکي ژانرونو کې نوي سبکونه وینو، لکه الماسي سبک، کیسه ییز سبک او داسې نور، چې د ژورنالیزم او ادبیاتو یو ګډ ترکیب دی.

زه په مسلکي لحاظ له ژورنالیزم سره تړلی یم او په دې برخه کې مې د لیسانس په کچه زده کړې کړې دي. په ادبیاتو کې د نظر او تیوري ورکولو پرځای هڅه کوم عملي کار وکړم، په مسلکي لحاظ ځان په هغه حد کې نه ګڼم، چې په ادبي مسایلو کې بحث او مباحثې وکړم.

**پوښتنه :**

**د خبر د ډولونو او څرنګوالي په اړه مو نظر څه دی؟ د یوه خبر او یا ژورنالیستیک ژانر لپاره کوم سبک، اصول او بنسټونه باید په پام کې ونیول شي؟**

**ځواب :**

اوس په عمومي ډول خبرونه په دوو ډولونو ویشل کیږي، چې یو نرم او بل سخت دي. پخوا په لسګونو ډوله خبرونه تعریف شوي، خو زه پر همدې ډولونو ټینګار کوم، ځکه دغه دوه ډوله خبرونه ټولې بڼې په ځان کې رانغاړي.

د ژانر په اړه باید ووایم، چې موږ د رسنیو بېلابېل ډولونه لرو، چې د هغو په پامنیوي سره د سبک بڼه هم ټاکل کیږي. په ټلویزیون کې به یو ډول وي، په راډیو کې بل ډول او په انلاین او چاپي رسنیو کې بل ډول. په عمومي ډول په سختو یا هارډ خبرونو کې سرچپه هرم سبک او په سافټ یا نرمو خبرونو کې کیسه ییز سبک کارول کیږي، خو بیا هم د سبک انتخاب په موضوع، سلیقې، د رسنۍ په ډول او نورو مسایلو پورې تړاو لري.

**پوښتنه :**

**راډیواو تلویزون د اغیزمنو ډله ییزو رسنیو په توګه د یوه هیواد د خلکو د ذهن په ویښتیا او بیدارۍ کې څومره رول لوبولای شي؟**

**ځواب :**

رسنۍ په عمومي ډول د ویښتابه لپاره ښې وسیلې دي. همدا اوس د عربو په پسرلي کې د الجزیرې رول ټولو ته جوت دی. په افغانستان کې هم رسنیو د عامه ذهنیت په روښانه کولو او دغه راز ویښتابه کې رغنده رول لوبولی دی.

**پوښتنه :**

**ستاسې پر اند د یوه تلویزوني خبر لپاره د هغه متن او که د هغه اړوند انځور ډیر اړین دی؟**

**ځواب :**

په ټلویزیون کې د خبر او رپوټ محور تصویر دی، خو غږ او متن یې بشپړوونکي دي. یاني دا درې واړه سره لازم او ملزوم دي. خو دا واقعیت هم دی، چې په ټلویزیون کې ډیرځله متن د تصویر په خدمت کې وي.

**پوښتنه :**

**د جنایي او نورو غمجنو او ویرجنو پیښو خبرونه د لیدونکو او اوریدونکو پر روحیاتو باندې څومره منفي اغیز لري، دلته د ژورنالستیکو اخلاقو حکم څه دی؟**

**ځواب :**

موږ د خبريالۍ د تګلارو له مخې د پېښو د پوښښ لپاره د مسلکي ارونو ترڅنګ يو لړ اخلاقي ارونه هم لرو، چې ژورناليستان يې په رعايت مکلف دي. لکه د مړو، سختو ټپيانو، مجرمانو او... تصوير نه خپرول، يا پر تصوير پرده اچول. دلته د حقوقو او اخلاقو ترمنځ ټکر هم پيښېداى شي، چې يو شمېر خبريالان يې ترمنځ توپير نه شي کولاى. حقوق عموما د جرم تر ارتکاب وروسته عمل کوي، خو اخلاق کېداى شي د انسان په داخل کې هر وخت عمل وکړي. کېداى شي په اخلاقي لحاظ خبريال دا ښه وګڼي، چې د يوه تورن يا متضرر تصوير خپور کړي، حال دا، چې په حقوقي لحاظ د جرم او ضرر له تثبيت پرته تصوير خپرول منع دي. يا برعکس که مخاطبان د يوه ثابت مجرم عکس وغواړي رسنۍ يې بايد ور وښيي، خو دا د کس وژل دي. دلته مساله حقوقي اړخ نيسي، خو که اخلاقي اړخ ونيسي، نو بيا د مجرم تصوير نه خپرېږي او د کس حيثيت ساتل کيږي.

موږ په رسنيو کې له لويه سره دوه ډوله اخلاق لرو، چې يو رسنيز- ژورنالستي اخلاق دي او بل ټولنيز. په رسنيزو اخلاقو کې خبريال ته حکم کيږي او په ټولنيزو هغو کې تلقين. رسنيز- ژورنالستي اخلاق موږ ته حکم کوي، چې پيښې تر مخاطبانو ورسوو، خو ټولنيز اخلاق د ځينو مسايلو په تړاو سپارښتنې کوي او کېداى شي په يو نيم مورد کې ځانسانسوري هم رامنځته کړي. په ژورناليزم کې د اخلاقو بحث ډېر ګونګ دى. رسنيز اخلاق موږ ته حکم کوي، چې د ځانمرګي بريد ژر خبر او رپوټ ورکړو، خو ټولنيز اخلاق حکم کوي، چې له ټپيانو سره مرسته وکړو. دغلته يو تقابل رامنځته کيږي، چې خبريال په يوه دوه لار کې واقع کوي. دې ته تر اوسه هيڅ ټولنې او رسنۍ هم حل لاره نه ده را ايستلې.

**پوښتنه :**

**ستاسي ليد د هيواد د ژورنالیستانو، په تيره بيا د راديو او تلويزون د آزمويلو او پخو کادرونو او کارکوونکو په راغونډولو او د يوې داسي غښتلي او مسلکي راديو تلويزوني شبکي پر بيا جوړولو کې، چې په علمي، سياسي، ملي، ادبي او فرهنګي او نورو پوهنيزو خپرونو کې څرګنده اغيز او رول ولري، څه دی؟**

**ځواب :**

دا خورا ښه نظر دى، خو په رسنيو کې بازار او اقتصادي مسايل مهم دي. که چېرې موږ خپلو ملي سوداګرو ته په رسنيز ډګر کې د يوه ډاډمن بازار او اقتصادي ګټو تضمين ورکړو، يا د رسنۍ د خودکفايي لپاره تثبيت شوې تمويلي سرچينې پيدا کړو، کېداى شي

دغسې یوه کارته زمینه برابره شي، له دې پرته د یوه فعال او بریالي ټلویزیوني چینل جوړول ستره پانګونه غواړي.

**پوښتنه :**

**تاسې دیو ځوان او تکړه ژورنالیست په توګه دهیواد د ننه او په بهر کې د ژورنالیستانو ټولنې او د هنرمندانو اتحادیې ته څه پیغام لرئ؟**

**ځواب :**

په افغانستان کې خبریالي خورا سخت او پیچلی مسلک دی. ژورنالیستان تل له ستونزو سره لاس او ګریوان دي. د خبریالانو د ټولنو او خبریالانو ترمنځ ځنځیري اړیکو ته اړتیا ده. دا له موږ سره د حقایقو په پلټنه او د ګوابښونو پر وړاندې په ګډه دفاع کې مرسته کوي. د یوه کشر په توګه به همدا پیغام بس وي.

ښاغلی سهار صاحب له تاسې څخه ډیره مننه، چې زما پوښتنو ته مو پوره او کره ځوابونه راکړل.ادبي او فرهنګي ډیوې مو تل ځلانده او روښانه اوسه.

محترم مسعود صاحب له تاسې نه هم د زړه له کومې مننه کوم.

**په ډیر درنښت او ادبي مینه : انجنیر عبدالقادرمسعود**